# دنوم لیکني، رای ورکووني او رایو شمېرني په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې اړوند کړنلاره

دغه کړنلاره د ټاکنو دقانون په ۵۶ مه ماده کې د ورکړل شویو واکونو له په پام کې نیولوسره د نوم لیکني،راې ورکووني او رایو شمېرني په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې د اړوندو چارو د تیظیم په موخه تدوین شوې ده.

## اصطلاحګاني

**لومړی ماده:**

په دې کړنلاره کې دغه اصطلاحګاني لاندې مفاهیم افاده کوي:

1. کمیسیون : د تولټاکنو خپلواک کمیسیون چې د افغانستان داساسي قانون د ۱۵۶ مي مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون : د ټاکنیزو شکایتونو کمسیون چې د ټاکنو د قانون د ۵۲ مي مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
3. ځانګړي میلمانه : هغه ملي او نړیوال جګپوړي دیپلوماتان ، علمي،فرهنګي او سیاسي شخصیتونه او پیژندل شوي اشخاص چې د نوم لیکني ، راې ورکووني او راې شمېرني په مرکزونوکې د څارني او یاد رسمي رپوټ برابرولو د نیت له درلودلو پرته حضور مومي .(کاندیدان ، د کاندیدانو استازې او سیاسي ګوندونه د خپل سیاسي او تولنیز دریځ له پام کې نیولو پرته ځانګړې میلمانه نه بلل کیږي.)
4. ملګرې هیات : له ځانګړو میلمنو سره ملګری پلاوی.
5. امنیتي ساتوونکي : د څانګړو میلمنو او ملګرې پلاوې امنیت دتامینولو په موخه موظف افراد.

## د حضور شرایط:

**دویمه ماده:**

۱. د کمیسیون د دارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست ددغې کړنلارې له په پام کې نیولو سره د نوم لیکني ، راې ورکووني او رایو شمیرنې په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې اړوندې چارې تنظیموي.

۲. په دې اړه غوښتنلیکونه چې له پلان څخه لږترلږه یوه اوونی مخکې په پام کې نیول شوي په لیکلي ډول د بهیرنیو اړیکو ریاست ته سپارل کیږي . په غوښتنلیکونو کې لږترلږه په لاندې مواردو کې معلومات شامل دي :

الف: د حضور د نیټې او وخت په اړه معلومات

ب: د ټاکنیز ځاې یا سیمې په اړه معلومات چې ځانګړې میلمه غواړې پکې حضور ومومي.

ج: د ملګري هیات شمېر او نومونه

د: د امنیتي ساتوونکو شمېر.

3. د کمیسیون د دارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست په وړاندې شوي غوښتنلیک کې د لیکل شویو معلوماتو له بشپړوالي څخه د ډاد له ترلاسه کولو وروسته موضوع د تصویب لپاره کمیسیون ته وړاندې کوي .کمیسیون وړاندې شوی غوښتنلیک تایید یا ردوي اویا د نیټې ، وخت ،ځای او یا د ملګري هیات یا د امنیتي ساتوونکو د شمیر د بدلون په اړوند تصمیم نیسي.

4. د کمیسیون د د ارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست ډیر ژر د کمیسیون په پریکړې د رخواست ورکوونکی خبروي.

۵- د کمېسون دتا يید په صورت کې، دکمېسون ددارالا نشا د باند نيو اړ يکو ريا ست د غوښتو نکي له خواد ورکړل شويو معلوما تو په پام کې نيولو سره ، په دې اړه ځا ناګړ ي کارتونه تر تيب کړي اودغوښتو نکي په واک کې دې ورکړي.

۶ ـدنو م ليکنې په مرکزونودخاصو مېلمنودحضورپه بهير کې،دټاکنوخپلوا ک کمېسيون ددارالانشا دبا ند نيو اړ يکو رياست لړه تر لړه دکمېسيون ديوه استا زي ګډون دنوم ليکنې ، رايه ورکونې اودرايوشمېرنې په مرکزونو کې تنظيموي .

## دخاصو مېلمنو امنيتي ساتوو نکي او ملګرى پلاوى:

دريمه ماده:

دخاصو مېلمنو امنيتي سا تونکي اوملګرى هيات يوازې دخاصو مېلمنو سره دملګرتوب په صورت کې کولى شي دنوم ليکنې،درايه ورکوو نې اوشمېرنې مرکزونوته داخل شي .

## دخا صو مېلمنو حقو ق اومسوولیتوونه :

څلورمه ماده:

۱ ـخا ص مېلما نه له ويشل شويو کارتونوسره داړوندو کړندودونو سره په سمون کې ، درايه ورکوو نکو دنوم ليکنې مرکزونو،مخکې تآ کل شويو رايه ورکونې اورايې شمېرنې مرکزونوته دحضور اجازه لري.
۲-خاص مېلما نه ،امنيتي ساتونکي اوملګرى پلاو ى دنوم ليکنې،رايې ورکونې اورايو شمېرونوبهير په مرکزونو کې د حضورپه بهيرکې دکمېسيون له خوادويشل شو ي پېژ ند کارتونه تل په ښکا ره ډول له ځان سره ولر ي.
۳- ځانګړي ميلمانه له ټاکنيزو کارکوونکو څخه د ټاکنيزو فعاليتونو په اړه د توضيحاتو د غوښتلو حق لري.
۴ ـ خا صي مېلمنې ښځې کولى شي په ښځو پورې اړ وندوځانګړو مرکزونو کې حضورولري .
۵-خاص مېلمانه به په ټا کنيزې پروسه کې هيڅ ډول لا سو هنه ونه کړ ي او دغه بهير به نه ګډوډوي
۶-خاص مېلما نه درايې ورکووني په کارت کې ليکل شوي معلو مات اودرا يې ورکونې سريت محترم وګڼي
۷ -خا ص مېلما نه دنوم ليکنې، رايې ورکونې يا رايو شمېر نو په مرکز کې دخپل حضور پر وخت تر هيڅ سر ليک لا ندې له يوه ګوند يا ځا نګړ ي نوماند پلوى و نه کړ ي.
۸-خا ص مېلما نه دخپل امنيتي مو ظيفينو اوملګري پلوي دچلند او عمل په اړوند مسووليت لري.
کمېسيون دخاصو مېلمنودحضور په اړه دنوم ليکنې،رايې ورکونې اورايو شمېرنو په مرکز باندې دسرغړونې په صورت کې محدوديت لګو ي.

## انفا ذ

پنځمه ما ده:

دغه کړنلاره دتصو يب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږ ي.